## *Amanita virosa*

**(ناروېژي: Hvit fluesopp)**

دا ډول ټول مرخیړي سپین رنګ لري (د مرخیړي سر، ډنډر، کونجکه او تنه). په ډنډر کې یوه کړۍ لري خو هغه ورځخه غورځېدلی شي. د ډنډر ترټولو لاندینۍ برخه په یوه کاټۍ (کڅوړه) کې ښخه وي. دا ډول خریړي په عام توګه لرګو او لرګین ځایونو کې پیدا کیږي.



*Amanita virosa*

## *Amanita phalloides*

**(ناروېژي: Grønn fluesopp)**

د سر رنګ یې شین، نصواري یا طلایی وي. کنجکه او ډنډر یې سپین وي. په ډنډر کې یوه کړۍ لري خو هغه ورځخه غورځېدلی شي. د ډنډر ترټولو لاندینۍ برخه په یوه کاټۍ (کڅوړه) کې ښخه وي. دا ډول خریړي په ندرت سره پیدا کیږي.



*Amanita phalloides*

## *Galerina marginata*

**(ناروېژي: Flatklokkehatt)**

سر او کنجکه یې نصواري طلایی رنګ لري. ډنډر یې نصواري یا خړ وي. دا یو ډول کوچنی خریړی دی چې عموماً د ونو ډډ او سټو یا ریښو څنګته وده کوي. دا ډول خریړي ډیر عام دي.



*Galerina marginata*

### مسمومیت

د دې درې ډوله خریړیو حتی خورا کوچنۍ برخه هم د جدي مسمومیت (زهري) لامل کیدی شي. د خوړلو څخه لږترلږه 6 ساعتونه وروسته انسان ته خورا شدیده اوبجنه نس ناستی یا اسهال، د معدې او نس درد او استفراغ پیدا کوي. د 2-3 ورځو په لړ کې یې د ځیګر د ژوند ګواښونکي لوړ زیان یا خطر سره مخ کوي. که چیرې شک مو پیدا شي چې خوړلی مو دی نو د مشورې او نورو تعقیبي چارو لپاره د ناروې د زهري او مسمومیت معلوماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

## *Cortinarius rubellus*

**(ناروېژي: Spiss giftslørsopp)**

دا ټول مرخیړی سور رنګه نصواري وي (د خریړي سر، کونجکه، ډنډر او تنه). دا ډول مرخیړي په ځنګلونو کې عام دي. دا مرخیړي په هماغه سیمو کې پیدا کیږي چیرې چې د *Craterellus tubaeformis* مرخیړي پیدا کیږي.



*Cortinarius rubellus*

## *Cortinarius orellanus*

**(ناروېژي: Butt giftslørsopp)**

دا مرخیړي د *Cortinarius rubellus* مرخیړو ته ورته دي، مګر سر یا خولۍ یې منحني ډوله ده. دا مرخیړي په ندرت سره پیدا کیږي او په وچو او ورستو ځنګلونو کې شتون لري.



*Cortinarius orellanus*

### خطرناکه تیروتنه

*Cortinarius rubellus* او *Craterellus tubaeformis* خریړي مختلف ډوله بڼه لري، مګر په ورته ځای کې پیدا کیږي. که چیرې د بسته بندۍ پرمهال په دقت او توجه سره هر خریړی جلا جلا او په انفرادي ډول ونه ارزول شي نو د وژونکي *Cortinarius rubellus* کوچنۍ بیلګې په اسانۍ ورسره ورګډیدلی شي.



*Cortinarius rubellus* او *Craterellus tubaeformis*

### مسمومیت

د وژونکي ویب کیپ او نادان ویب کیپ حتی خورا کوچنۍ او لږه برخه هم د پښتورګو (ګردو) د جدي ضرر لامل کیدو لپاره کافي زهر لري. د 36 ساعتونو څخه وروسته، د مسمومیت علایم د زړه بدي، معدې او نس درد، د ناروغۍ عمومي احساس درلودلو او د متیازو د مقدار ډیریدو یا کمیدو سره راڅرګندیږي. د 3-6 ورځو په اوږدو کې د پښتورګو له کاره غورځېدو د جدي ستونزې رامینځته کیدو لوړ خطر شتون لري. که چیرې شک مو پیدا شي چې خوړلی مو دی نو د مشورې او نورو تعقیبي چارو لپاره د ناروې د زهري او مسمومیت معلوماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

Norwegian Institute of Public Health

# په ناروې کې زهري مرخیړي



د خوړلو وړ مرخیړي، نه خوړل کیدونکي مرخیړي او زهري مرخیړي ټول په ځنګلونو کې پیدا کیږي او وده کوي. د ناروې ځینې ډیرى زهري مرخیړي په نورو هیوادونو کې سهوآ یا د تیروتنې له مخې د خوړلو وړ ورته مرخیړي ګڼل کیدی شي. که چیرې د مسمومیت شک پیدا شي نو د ناروې د زهري او مسمومیت معلوماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

## د مرخیړو د راټولو په اړه غوره مشوره:

- یوازې هغه مرخیړي وخورئ چې تاسې ورڅخه 100% ډاډه یاست،
- هیڅکله نا اشنا مرخیړي مه څکی یا مه تجربه کوئ! حتی زهري مرخیړي هم شاید ښه خوند ولري.
- د مرخیړو په اړه تازه او ورځني معلومات وکاروئ،
- هرډول چینجن شوي یا خوسا او خراب شوي مرخیړي لیرې وغورځوئ.

**د ناروې د زهري او مسمومیت معلوماتو مرکز**
تلیفون: 00 13 59 22 (24 – ساعتونه)
**www.giftinfo.no**

دا بروشور د ناروې د زهري او مسمومیت معلوماتو مرکز لخوا تولید شوی دی (www.giftinfo.no). د ویب پاڼې څخه په نارویجي ژبه تفصیلي بروشور ډاونلوډ کولی شئ. د ناروې میکولوژیکي ټولنه (www.soppognyttevekster.no) د مرخیړو کورسونه او د مرخیړو تفتیش په لاره اچوي.

2018



## *Amanita muscaria var. muscaria / var. regalis / pantherina*

(نارویژي: **Rød/brun- og panterfluesopp**)

دا ډول مرخیړي سپین کونجکې لري او ډنډر یې یوه کړۍ لري. د ډنډر پښه یې پړسیدلې وي. خولۍ یا سر یې سور یا خړ ډوله رنګ لري او سپین ټاکي پکې وي.

### مسمومیت

دا خریړي په عصبي سیسټم اغیزه کونکي زهر لري. علایم یې د خوړل کیدو څخه 3-½ ساعتونه وروسته راڅرګندیږي. د کوچني مقدار خوړل یې د ګیچ کیدو، ګنګس کیدو، د عضلاتو د درد او د معدې او نس د ستونزو لامل کیږي. د دې له امله جدي مسمومیت په ندرت سره رامینځته کیږي، مګر د ډیر مقدار خوړل یې د داسې ناروغیو او علایمو لامل کیږي چې د روغتون درملنې ته اړتیا لري.



## *Paxillus involutus*

(نارویژي: **Pluggsopp**)

دا ډول مرخیړي خړ سر لري چې دننه لور ته تاو شوې څنډه هم لري، او ډنډرې او کونجکې یې هم خړې وي او کله چې وربانډې فشار راوړل شي نو رنګ یې تیاره کیږي.

Paxillus involutus ډیرعام دي.

### مسمومیت

*Paxillus involutus* ډیرى مختلف ډوله زهر لري او د بیلابیل توپیري علایمو لامل کیدى شي. د دا ډول خام مرخیړو خوړلو څخه 3-½ ساعتونه وروسته استفراغ، اسهال او د نس درد رامینځته کیدی شي. د پاخه شوي یا ګرم دا مرخیړي په مکرر ډول خوړلو وروسته، جدي مسمومیت رامینځته کیږي چې پایله یې د وینې حجرو او پښتورګو زیامن کیدو په صورت کې راوځي.



## *Leccinum versipelle*

(نارویژي: **Rødskrubb**)

دا مرخیړي سور نسواري رنګه سر یا خولۍ او په سپین ډنډر تور ټکي لري. کله چې پرې شي نو بدنه یې تیاره کیږي. دا ډول مرخیړي په ټول هیواد کې عام دي.

### مسمومیت

*Leccinum versipelle* د خوړلو وړ فنجي دی که چیرې لږترلږه د 15 دقیقو لپاره پوخ شي. که چیرې په کافي اندازه پوخ او ګرم نشي، نو دا به شاید هغه مرخیړي وي چې په ناروې کې د نس ډیرى پیښو لامل کیږي. زړه بدی، استفراغ، اسهال او د نس درد هغه ناروغۍ دي چې د دې مرخیړي د خوړلو څخه یو څو ساعتونه وروسته پیښیږي. علایم یې عموماً تر 1-2 ساعتونو پورې دوام کوي. که چیرې ډیر مقدار یې وخوړل شي،
د نس درد ډیر کیدی شي او په روغتون کې بستري کیدو ته اړتیا پیدا کیږي.

**عکس: پر مرستاد**